## سېلابونه

### د سېلابونو بیانولو دپاره کارېدونکي جملې زده کړئ

- د سېلاب څارنه: سېلاب امکان لري. څارنې د National Weather Service [ملي موسمي خدمت] (NWS) له خوا د احتمالي پېښې څخه 12 تر 36 ساعته دمخه ورکول کېږي.
- د ناڅاپي سېلاب څارنه: ناڅاپي سېلاب امکان لري. لوړو ځمکو ته تلو دپاره چمتو اوسئ. ناڅاپي سېلاب پرته له کومې خبرتیا رامنځته کېدی شي.
- د سېلاب خبرتیا: سېلاب رامنځته شوی دی یا ډېر زر به رامنځته شي. که له کورونو وتلو سپارښتنه وشي، نو سمدلاسه ووځئ.
- د ناڅاپي سېلاب خبرتیا: ناڅاپي سېلاب رامنځته شوی دی. سمدلاسه د لوړې ځمکې لټون وکړئ او د خوړونو او والو څخه لیرې اوسېږئ.

### د سېلاب په صورت کې څه کول غواړي

- که چېرې تاسو د سېلابي اوبو سره مخ شئ نو هیڅکله هم په هغې کې د تلو یا ګاډي چلولو هڅه مه کوئ.
- د رسنیو د راپورونو څارنه کوئ.
- د ځایي چارواکو څخه پوښتنه وکړئ چې آیا ستاسو شتمني د سېلاب لاندې کېدونکې یا د لوړ خطر سیمه کې ده. سېلابي نخشې د ښار په ډېرو دفترونو یا د ښار په تالارونو کې شتون لري.
- د عامه خوندیتوب ځایي او ملي چارواکو ته غوږ ږدئ او د هغوی سپارښتونو ته په چټکۍ سره غبرګون کوئ.
- د سېلاب څخه تښتېدو تر ټولو غوره لارې، عامه احتمالي پناځایونه، او د لوړې ځمکې ځایونه وپېژنئ. په ناڅاپي سېلاب کې، کېدی شي تاسو دې ته اړتیا لرئ چې په چټکۍ سره پیاده د لوړې ځمکې لټون وکړئ.

### د سېلابونو د چمتو کېدو دپاره څه کول پکار دي

- په نکاسي جالونو کې 'دروونکي والونه' ولګوئ ترڅو د سېلابي اوبو بیرته ستاسو د کور نکاسي نالو ته د ننوتلو مخه ونیسي.
- دا ډاډ ترلاسه کړئ چې کور مو چمتو وي. که امکان وي، د ځمکې لاندې پوړ توکي لوړ کړئ کوم چې د محدود سېلاب له امله زیانمنېږي او د سېلاب څخه د ځمکې لاندې پوړ زیان راټیټ کړئ.
- د دې ډاډینه کولو دپاره د تېلو ټانکونه وتړئ چې اوبه یې یونه سي، کوم چې په کور دننه او بهر امنیتي او چاپېریالي ستونزې رامنځته کوي.
- د کورنۍ دپاره ایمرجنسي کیټ جوړ کړئ.
- د کورنۍ د اړیکو پلان جوړ کړئ. له ایالته بهر کوم خپل د اړیکو د مرکز په توګه وټاکئ.
- د برېښنا بندولو دپاره چمتو اوسئ کله چې ولاړې اوبه وي، د برېښنا مزي راپرېوتي وي، یا مخکې تر دې چې تاسو له کوره ووځئ. د دې چل زده کړئ چې د کوره د وتلو مخکې به څنګه په خوندي توګه د ګاز او اوبو لرې بندوئ.
- خپل د بیمې د ایجنټ یا د ځایي حکومت سره د سېلاب د بیمې د پوښ په اړه د غربېدلو دپاره اړیکه ونیسئ.